# شتمنى
SHTAMANI

تأسیس: ۱۳۹۴ ل ل

اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

ذوالحجة الحرام ۲۷-۱٤٤٧ ل س | د غبرگولي ۲۳-۱۴۰۵ ل ل | د جون ۱۳-۲۰۲٦ | شپږم کال | ۱٦٦ گڼه | ٤ مخیزه




**د حج کولو ارزښت**

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

څوک، چې د الله تعالی د کعبې حج ادا کړي، بیا د حج په دوران کې فحش او شهواني خبرې، گناه او نافرماني ونه کړي، نو هغه داسې له گناهونو څخه پاك راستنېږي لکه نوی، چې له موره زېږېدلی وي. [صحیح بخاري ۱۸۱۹]

**ارزش حج کردن**

از ابوهریره رضی الله عنه روایت شده که رسول الله ﷺ فرمود:

هر کسی که حج کعبه الله متعال را ادا کند و در جریان حج مرتکب سخنان فحش و شهوانی و گناه و نافرمانی نشود، به حدی از گناه پاك می گردد؛ مثل که از مادر تولد شده باشد. [صحیح بخاري ۱۸۱۹]

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## د څار هیئت د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو دوولسمه ناسته وکړه




د ماليې وزات د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د څار هیئت د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو دوولسمه ناسته د اقتصادي وزارتونو او ادارو د با صلاحیته استازو په گډون د گمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کې وشوه.

د ناستې په پیل کې د عوایدو او گمرکونو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید، د یاد هیئت پر لاسته راوړنو خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې عمل مو باید پر وینا بارز وي او پایله لرونکې کړنې ترسره کړئ.

همدارنگه نوموړي له تخنیکي هیئت سره پر همغږۍ او همکارۍ ټینگار وکړ او زیاته یې کړه، چې له تخنیکي هیئت سره همغږۍ او همکارۍ ته دوام ورکړئ؛ ترڅو پلانونه ښه پلي او غوره پایله ترلاسه شي.

وروسته د یوولسمې ناستې پر مهال د مؤظف شویو هیئتانو له لوري د ورسپارل شویو موضوعاتو په اړه د ترسره شویو کړنو راپورونه وړاندې شول.

د څار هیئت استازو د باروړونکو ټرانسپورټي شرکتونو پر مالیاتي ستونزو، په گمرکونو کې د فی لیټر او اکسل فیس پر اخیستلو، د مالیاتو د راټولولو لپاره د الکترونیکي سیستم رامنځته کولو او د عوایدو د مدیریت لا ښه کولو او نورو موضوعاتو په تړاو بحث وکړ، چې د غوره تحلیل او حل لارو وړاندې کولو په موخه ورته ځانگړی هیئت وگومارل شو، چې یاد هیئت به په راتلونکې ناسته کې خپل تحلیلي راپور وړاندې کړي.

د اقتصادي وزارتونه او ادارو پر کړنو د څار هیئت د اقتصادي کمېسیون د حکم پر اساس جوړ شوی، چې اساسي موخې ئې د یادو وزارتونو او ادارو د فعالیتونو او کړنو څار او په ذکر شویو ادارو کې مراجعه کوونکو ته د لازمو اسانتیاوو رامنځته کول دي.

## د غنمو اوړو د گمرکي تعرفې لوړوالي سره هېواد ته د غنمو واردات (۳۴۵) سلنه زیات شوي دي

د هېواد د کورنیو تولیداتو د ملاتړ او د اوړو پروسیس صنعت د پیاوړتیا په موخه تېر کال د ماليې وزارت په مشرۍ د تعرفې کمېټې له لوري د غنمو پر وارداتو گمرکي تعرفه راکمه او د اوړو گمرکي تعرفه په تدریجي ډول له (۵) سلنې څخه (۸) سلنې ته لوړه شوه.

د یادو بدلونونو له پلې کېدو وروسته، هېواد ته د غنمو واردات په څرگند ډول زیات شوي دي، چې له امله یې د اوړو د تولیدي میلونو فعالیتونه پراخ شوي او د کورنیو تولیداتو کچه لوړه شوې ده.

د روان (۱۴۰۵هـ.ل) مالي کال په لومړیو دوو میاشتو (کب او وري) کې (۱۹۸) زره ټنه غنم هېواد ته را وارد شوي دي، حال دا چې د تېر (۱۴۰۳) مالي کال د کب او د (۱۴۰۴) کال د وري په میاشتو کې دغه اندازه یوازې (۴۴) زره ټنه وه، چې اوس (۳۴۵) سلنه زیاتوالی ښیي.

د دغو بدلونونو په پایله کې د کورنیو تولیدي میلونو ظرفیت لوړ شوی، د کارموندنې فرصتونه زیات شوي او په بازار کې د داخلي تولیداتو ونډه هم پراخه شوې ده.

د یادونې وړ ده، چې د ماليې وزارت له لوري د دې ډول اقتصادي تگلارو اساسي موخه د کورني تولید ملاتړ او د ملي اقتصاد پیاوړتیا ده.

## د مېوې شیرې د تعرفې په تړاو د ماليې وزارت خبرتیا!

د ماليې وزارت په مشرۍ د (۱۴۰۴) مالي کال د تعرفې کمېټې د څلورمې ناستې له پرېکړې سره سم، د کرنې اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت په مشرۍ، د ماليې او صنعت او سوداگرۍ وزارتونو او درې گونو خونو په غړیتوب جوړې شوې کمېټې د مېوې شیرې د تعرفې اړوند له هر اړخیزې څېړنې او تحلیل وروسته خپل راپور د تعرفې کمېټې ته وړاندې کړ.

دغه راپور د تعرفې کمېټې د (۱۴۰۵) هـ.ل کال په دوهمه ناسته کې له هر اړخیز تحلیل او بحث وروسته تائید شو او پرېکړه وشوه، چې د مېوې شیرې (کانسټریټ) دې فابریکو ته په حمایوي تعرفې کې نه ورکول کېږي او تعرفې دې له (٦٠) سلنې څخه (۲۰) سلنې ته را ښکته شي، چې دغه پرېکړه به د روان (۱۴۰۵) کال د چنگاښ میاشتې له څلورمې نېټې وروسته پلې شي.



د یادونې وړ ده، چې یاده پرېکړه د پانگونې د جلب او د کورنیو مېوو د پروسیس او ښې بازار موندنې په موخه شوې ده.

## د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمانونو لړۍ

**د حج د سفر پر مهال د معلمینو عمومي مکلفیتونه**

څلورمه ماده: پنځمه برخه

۱۳- حاجیانو ته سپارښتنه کول، چې په هیڅ وخت کې عکاسي، فلمبرداري او نور د شرع خلاف کارونه ونه کړي.

(۲)-معلمین دې په حرمینو شریفینو کې د استو گنځاینو د تنظیف او څوکیدارۍ له کارکوونکو سره په اړیکه کې وي؛ او په ډېرې نرمۍ سره دې هغوی خپلو وظایفو ته متوجه کوي؛ د سرغړونې په صورت کې دې د بعثې اړوند هیئتونو ته خبر ورکوي، چې د عقد مطابق ورسره کړنه ترسره کړي.

**مکلفیت های عمومی معلمین هنگام سفر حج**

ماده چهارم: بخش پنجم

۱۳- توصیه به حجاج که هیچ وقت عکاسی، فلمبرداری و سایر اعمال خلاف شرع را انجام ندهند.

(۲)- معلمین با کارکنان تنظیف و چوکی داری محلات سکونت در حرمین شریفین در ارتباط باشند و با نرمی زیاد آنها را به وظایف شان متوجه نمایند؛ در صورت تخلف به هیئت های مربوط بعثه اطلاع دهند که مطابق عقد با آنها عمل نمایند.

## سرمقاله

### اقتصاد دیجیتالی و راه‌های نوین توسعه کشور در عصر حاضر

جهان در قرن بیست‌ویکم وارد مرحله‌ای شده که در آن رشد اقتصادی دیگر فقط بر منابع طبیعی، نیروی کار و صنعت سنتی استوار نیست. امروز اطلاعات، فناوری و نوآوری محرك اصلی رقابت و توسعه‌اند. به همین دلیل، کشورها برای عقب نماندن از روند جهانی، باید خود را با اقتصاد دیجیتالی هماهنگ کنند؛ اقتصادی که در آن تولید، توزیع و ارائه خدمات با تکیه بر فناوری‌های اطلاعاتی و ارتباطی انجام می‌شود. اقتصاد دیجیتالی یعنی شکل‌گیری کسب‌وکارها و خدمات بر بستر اینترنت و فناوری. در این مدل، تجارت الکترونیکی، بانکداری و پرداخت دیجیتالی، بازارهای آنلاین نقش کلیدی دارند. نتیجه آن است که افراد و شرکت‌ها می‌توانند بدون حضور فیزیکی گسترده، با مشتریان جدید ارتباط بگیرند، خدمات بدهند و درآمد کسب کنند. این ویژگی برای کشورهای در حال توسعه یك فرصت بزرگ محسوب می‌شود، چون می‌تواند محدودیت‌های جغرافیایی را کاهش دهد و دسترسی به بازارهای بزرگ‌تر را ممکن کند. اقتصاد دیجیتال می‌تواند برای کشورهای در حال توسعه، به‌ویژه افغانستان فرصت‌های مهمی ایجاد کند. این اقتصاد از یك سو به جوانان امکان کار در بازار جهانی می‌دهد و تجارت و صادرات را از مسیر آنلاین تقویت می‌کند. از سوی دیگر، با گسترش بانکداری و خدمات مالی دیجیتال، دسترسی مردم به پرداخت‌ها و خدمات مالی بهتر می‌شود. همچنین حکومتداری الکترونیکی و فرایندهای قابل رصد می‌تواند شفافیت اداری را افزایش داده و فساد را کاهش دهد. در نهایت، اقتصاد دیجیتال زمینه رشد کارآفرینی و نوآوری میان نسل جوان افغانستان را فراهم می‌سازد. حمایت واقعی از کسب وکارهای نوپا باید با کاهش موانع اداری و ایجاد شرایطی برای رشد پایدار همراه باشد. از طرف دیگر گسترش حکومتداری الکترونیکی می‌تواند با ایجاد شفافیت، کاهش فساد و ساده‌سازی فرایندهای اداری، اعتماد عمومی را تقویت کند. در نهایت، قانون‌گذاری مناسب برای تجارت و بانکداری دیجیتال لازم است تا ضمن تضمین امنیت، اطمینان مردم و کسب‌وکارها نیز افزایش یابد. امارت اسلامی افغانستان در راستای اقتصاد دیجیتال—به‌ویژه در محور پرداخت‌های دیجیتال/نظام مالی و نیز حکمرانی و زیرساخت‌های دیجیتال در سطح سیاست‌گذاری و ظرفیت‌سازی—بیشتر از همه بر اقدامات مشخص زیر تمرکز کرده است.یکی از ملموس‌ترین اقدامات، راه‌اندازی و توسعه سیستم تادیات افغانستان (Afghanistan Payments System – APS) است. این سیستم به‌عنوان سویچ ملی پرداخت‌های الکترونیکی عمل می‌کند و پرداخت‌های دیجیتال را میان بانك‌ها و نهادهای مالی مختلف، به‌صورت امن و سریع قابل اتصال می‌سازد. در همین چارچوب، به استفاده از کارت (AF Pay) و همچنین توسعه ابزارهای پرداخت مانند دستگاه‌های (ATM/POS) نیز قابل یاد آوری است. اقتصاد دیجیتالی مسیر اصلی آینده اقتصاد جهان است. اما موفقیت کشورها در این مسیر به یك چیز وابسته است؛ اینکه فناوری را فقط به عنوان ابزار رشد اقتصادی نبینند، بلکه آن را با عدالت فناورانه، امنیت، مهارت‌آموزی و حکمرانی خوب پیوند بزنند. کشورهایی که این چارچوب را بسازند، می‌توانند از اقتصاد دیجیتال برای اشتغال، سرمایه‌گذاری، رقابت‌پذیری و رفاه اجتماعی بهره ببرند.

**با احترام**

**اداره**




**د عوایدو او گمرکونو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د همغږۍ دوولسمه ناسته وشوه**


م ۲




**د عوایدو لوی رئیس د کابل ولایت د صرافانو د اتحادیې له استازو سره وکتل**


م ۲




**د دعوت او ارشاد ریاست د خدمتي مسئولینو او د ساتنې او ځانگړو عملیاتو د تنفیذي قطعې د مسئولینو ترمنځ د همغږۍ غونډه وشوه**


م ۲




**په تېرو دوو اوونیو کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول شوي دي**


م ۲




**منابع طبیعی افغانستان؛ فرصت توسعه یا نفرین اقتصادی؟**


م ۳




**د عوایدو لوی ریاست د رهبري هیئت څلورمه ناسته وشوه**


م ٤

SHTAMANI
اوونیزه

# په تېرو دوو اوونیو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول شوي دي



د ماليې وزارت د ګمرکونو لـوی ریاسـت د ګرځنده څارنې کارکوونکـو په تېرو دوو اوونیـو کې د کندهار، نیمروز، ننګرهـار او هلمنـد ولایتونـو په بېلابېلو سیمو کې پـه زیاتـه انـدازه قاچاقي توکـي نیـولي دي، چې قاچـاق کوونکـو غوښـتل لـه ګمرکـي محصـول پرتـه یـې پـه قاچاقي ډول افغانسـتان تـه راوړي. پـه نیـول شـویو توکـو کـې (۲۲۳۰۴) کیلـو ګرامـه انساني طبـي درمـل، (۲۳۱۲) کیلـو ګرامـه وریجـې، (۵۹۴۶) کیلـو ګرامـه نـوې البسـه، (۲۲۹۴۵) کیلـو ګرامه لیلامي البسه، (۵۴۳۵) کیلو ګرامه اورلګیت، (۴۷۰۸) کیلـو ګرامـه ټوکـر، (۳۸۵۵) کیلـو ګرامـه د سینګار توکـي، (۴۱۹۵) کیلـو ګرامـه د ودانیـو رنـګ، (۱۶۸۹) کیلـو ګرامـه کرنیـز درمـل، (۵۴۵۳) کیلـو ګرامـه پـرزې، (۱۳۲۰) کیلـو ګرامـه نخـي تـار، (۱۶۲۵) کیلـو ګرامـه نکریـزې، (۱۴۵۰) کیلـو ګرامـه رسـۍ، (۱۴۸۰) کیلـو ګرامـه امونـه، (۵۳۳) کیلـو ګرامـه حیواني درمـل، (۴۰۵) کیلـو ګرامـه چلـم او د چلـم مېـوه، (۵۵۵) کیلـو ګرامـه د بوټانو قالبونـه، (۱۷۵۰) کیلـو ګرامـه نشـه یـي مـواد، (۲۰۰) کیلـو ګرامـه کچالـو، (۳۸۵) کیلـو ګرامـه غـوړي، (۱۱۴) کیلـو ګرامـه تمباکـو، (۲۰۷) کیلـو ګرامـه پټوګان، (۱۸۰) کیلـو ګرامـه تېزاب، (۱۴۲) کیلـو ګرامـه د موټرونـو رنـګ، (۱۱۳) کیلـو ګرامـه برېښنايي توکـي، (۱۰۰) کیلـو ګرامـه تینـر، (٦٦) کیلـو ګرامـه د دېګ مسـاله او (۱۱) کیلـو ګرامـه صابـون شـامل دي. نیـول شـوي توکـي او تـورن کسـان د نـورو اجراآتـو لپـاره اړونـدو ګمرکونـو تـه سـپارل شـوي دي.

# مستوفی جدید برای ولایت پنجشیر معرفی گردید

بـر اسـاس حکـم عالیقـدر امیرالمؤمنیـن (حفظـه اللـه تعالـی) مولـوی محمـد فـاروق انصـاری پشـه یـی کـه بـه عنـوان مسـتوفی جدیـد ولایـت پنجشـیر تعییـن گردیـده بـود، از سـوی مولـوی سـفر محمـد سـحر رئیـس عمومـی عوایـد وزارت مالیـه و هیئـت همـراه شـان، در مقـام ولایـت پنجشـیر نخسـت بـه والـی و مسـئولین ولایتـی ایـن ولایـت، و سـپس بـه کارمنـدان اداری در مقـام مسـتوفیت معرفـی گردیـد. در جریـان نشسـت معرفـت، رئیـس عمومـی عوایـد بـر تطبیـق دقیـق و اطاعـت از احـکام و فرامیـن رهـبری امـارت اسـلامی تأکیـد ورزیـد و بـه کارمنـدان مسـتوفیت بهمنظـور بهبـود، تسـریع و گسـترش هرچـه بهـتر امـور اداری، رهنمودهـای لازم ارائـه نمـود. همچنـان وی بـه کارمنـدان توصیـه کـرد تـا اخـلاق و شـخصیت خویـش را بـا سـیرت و صـورت نبـوی آراسـته نماینـد.

قابـل ذکـر اسـت کـه آقـای محمـد فـاروق انصـاری پشـه یـی قبـل از ایـن بـه عنـوان مسـتوفی ولایـت غزنـی ایفـای وظیفـه کـرده اسـت.

# د عوایدو او ګمرکونو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د همغږۍ دوولسمه ناسته وشوه

د ماليې وزارت د ګمرکونـو او عوایـدو معیـن الحـاج مفتـي عبدالمتیـن سـعید پـه مـشرۍ د دغـه معینیـت د اړونـدو ریاسـتونو د رئیسـانو او مسـئولینو پـه ګـډون د همغـږۍ دوولسـمه ناسـته وشـوه. پـه پیـل کـې د ګمرکونـو او عوایـدو معیـن د هغمـږۍ ناسـتو د پرېکـړو پـر پـلي کېـدو، د چـارو د لا ښـه والي پـه موخـه د کارکوونکـو ترمنـځ د کاري تجربـو پـر شریکولـو، د مشرتابـه عـالي مقـام لـه توصیـو سره سـم د کارکوونکـو د سـیرت او صـورت پـر جوړولـو او یـو شـمېر نـورو موضوعاتـو پـه اړه مسـئولینو تـه لازمـې سپارښـتنې وکـړې.

ورپسـې د تېرې ناسـتې پـر مهـال ټـاکل شـویو پـلاوو تـه د سـپارل شـویو مسـئولیتونو د اجراآتـو راپورونـه واورول شـول او پـه اړه یـې لازم هدایـات هـم ورکـړل شـول. همـدا شـان پرېکـړه وشـوه، چـې د مراجعینـو سـتونزو تـه د رسـېدو پـه موخـه د ګمرکونـو او عوایـدو معینیـت د اړونـدو ټولـو مرکـزي او ولایتـي ریاسـتونو د مسـئولینو رسـمي شـمېرې او ایمېـل ادرسـونه دې د ټولنیـزو رسـنیو لـه لارې نـشر شي؛ څـو هیـوادوال وکـولای شي خپلـې سـتونزې پـه مستقیم ډول لـه اړونـدو مسئولینو سره شریکـې کـړي.

د یادونـې وړ ده، چـې د ګمرکونـو او عوایـدو معینیـت د همغـږۍ دغـه ډول ناسـتې هـره میاشـت د اړونـدو ریاسـتونو ترمنـځ د کاري اړیکـو د پراخولـو او د موجـوده سـتونزو د حـل پـه موخـه تـرسره کېـږي.




# د عوایدو لوی رئیس د کابل ولایت د صرافانو د اتحادیې له استازو سره وکتل

د ماليې وزارت د عوایـدو لـوی رئیـس الحـاج مولـوي سـفر محمـد سـحر، د کابـل ولایـت د صرافـانو اتحادیـې لـه مرسـتیال او غـړو سره د یـاد ریاسـت پـه مقـام کـې وکتـل او د مالیـاتي سـتونزو پـر حـل یـې خـبرې وکـړې.

پـه دې ناسـته کـې د عوایـدو لـوی رئیـس صرافـان د هېـواد د اقتصـادي ثبـات مهمـه برخـه وبللـه او زیاتـه یـې کـړه، چـې د ماليې وزارت هڅـه کـوي؛ ترڅـو صرافانـو تـه د مالیاتـو پـه برخـه کـې لازمـې اسـانتیاوې رامنځتـه او سـتونزو تـه یـې پـر وخـت رسـېدنه وکـړي.

پـه یاده ناسـته کې د صرافانـو اتحادیې مرسـتیال، حاجي حمداللـه، د مالیاتي تصفیې پـه برخـه کې د صرافانـو سـتونزې او غوښـتنې شریکـې کـړې. د عوایـدو لـوی رئیـس د یـادو سـتونزو د حـل د ډاډ ترڅنـګ صرافانـو تـه سپارښـتنه وکـړه، چـې خپلې مالیـاتي پروسـې دې د خپلـو مـالي کارکوونکـو پـه مـټ تـرسره او لـه کمېشـنکارانو څخـه دې ډډه وکـړي. همـدا راز پـه مالیـاتي اظهارنامـو کـې خپـل رښـتیني عوایـد درج او د سـتونزو پـه صـورت کـې اړونـدو ریاسـتونو تـه مراجعه وکـړي.



د یادونـې وړ ده، چـې د عوایـدو لوی رئیس د مالیه ورکوونکـو د سـتونزو د اورېـدو او وړاندیزونـو د ترلاسـه کولـو سربېره د مالیاتـو د تحصیـل پـه برخـه کـې د رامنځتـه شـویو سـتونزو د حـل پـه موخـه د بېلابېلـو اتحادیـو لـه اسـتازو سره لیدنـې کـوي.

# د دعوت او ارشاد ریاست د خدمتي مسئولینو او د ساتنې او څانګړو عملیاتو د تنفیذي قطعې د مسئولینو ترمنځ د همغږۍ غونډه وشوه

د ماليې وزارت د دعـوت او ارشـاد ریاسـت د خدمتـي مسـئولینو او د ماليې وزارت د سـاتنې او ځانګـړو عملیاتـو د تنفیـذي قطعـې د قومندانـۍ د مسـئولینو ترمنـځ د همغـږۍ غونـډه د دغـه وزارت خیبرهـال کـې وشـوه.

پـه دې غونـډه کې د حقوقي بـورډ رئیـس مولـوي محمـد نعیـم جمیـل، د دعـوت او ارشـاد رئیـس مولـوي عبدالهـادي سـیف الخالـد، د مرکـزي او ولایتـي ادارو د همغږۍ آمر مولـوي وصیف احمد احمـدي، د ماليې وزارت د سـاتنې او ځانګـړو عملیاتـو د تنفیـذي قطعـي قومندانـۍ د ښـوونې او روزنـې مدیر مفتـي عبدالرزاق او د دعوت او ارشـاد ریاسـت یـو شـمېر نـورو مسـئولینو ګډون کـړی وو.

د حقوقي بورډ رئیس د دې غونډې په پرانیسـتونکې وینـا کې د چارو د پرمـخ وړلـو لپاره د ګډ کار او انسـجام پـر اړتیـا او تفرقـې پـر مخنیوي ټینـګار وکړ.



د دعـوت او ارشـاد رئیـس وویـل، چې تاسـو د دین د ترجـمان پـه توګـه د دیـن د پیاوړتیا، د کلمـة الله د لوړولـو او د ټولنـې د اصـلاح لپاره کار کـوئ. په دې برخـه کې د خدمتي مسـئولینو او د ښـوونې او روزنې ترمنـځ همغـږي او د همـکارۍ ژورتیـا اړینـه ده.

محـترم احمـدي وویـل، دا غونـډه د سـتونزو د اورېدلـو، د مسـئولیتونو د روښـانه کولـو او د عالیقدر امیرالمؤمنیـن (حفظـه اللـه تعالـی) د فرامینـو او لارښـوونو د رسـولو پـه موخـه تـرسره شـوې ده. تاسـو دنـده لـرئ، چـې د دې اسـلامي نظـام د پیاوړتیـا لپـاره لـه خپلـو دنـدو او مسـئولیتونو څخـه خـبر اوسـئ او ترمنـځ مـو همغـږي ولـرئ.

د ښـوونې او روزنې مدیر د نظامي او ملکي پرسـونل ترمنـځ د همغـږۍ او د دعـوت او ارشـاد ریاسـت د ښـوونیز نصـاب د پـلي کېـدو ډاډ ورکـړ او غونـډه د خیـر دعایـې پـه ویلـو سره پـای تـه ورسـېده.

# د ماليې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (۲۴) شکایتونو ته رسېدنه کړې ده

د ماليې وزارت د کورنـۍ پلټنـې لـوی ریاسـت د شـکایتونو اورېـدو آمریـت د دغـه وزارت اړونـد ټولـو شـکایتونو؛ لکـه: فسـاد، کـم کاري، کار ځنـډوني او د یـو شـمېر مسـئولینو ناسـم چلنـد تـه د رسـېدنې مسـئولیت پـه غـاړه لـري او ترلاسـه شـویو شـکایتونو تـه لـه ځنـډ پرتـه رسـېدنه کـوي.

دغـه آمریـت د روان (۱۴۰۵) کال ثـور (غویـي) میاشـتې لـه پیـل څخـه د دغې میاشـتې تر پایـه پورې پـه ټولـه کـې (۲۷) شـکایتونه ترلاسـه کـړي او اورېـدلي دي. لـه دې جملـې (۱۵) شـکایتونه د وټـس اپ لـه لارې، (۱۱) شـکایتونه پـه حضـوري بڼـه او (۱) شـکایت د ټیلیفـون لـه لارې لـه دغـه آمریـت سره شریـک شـوي دي، چـې یـاد شـکایتونه د املاکـو، تدارکاتـو، مـالي او منفکـۍ پـه برخـو کـې ول، چـې د دغـه آمریـت لـه لوري یـې (۲۴) شـکایتونو تـه رسـېدنه شـوې، (۱) شـکایت تـر کار لانـدې او (۲) شـکایتونه لااجـراء پاتـې دي.

د یـادوني وړ ده، چـې ټـول هیـوادوال کـولای شي، چـې د ماليې وزارت د بېلابېلـو څانګـو پـه ځانګـړې توګـه د عوایـدي سرچینـو او د ګومارنـې پـه برخـه کـې د اصلاحاتـو پـه تـړاو خپـل شـکایتونه، وړاندیزونـه او نظریـات د برېښـنالیك، واټـس آپ، ټیلیفـون، پـه حضـوري بڼـه او د شـکایتونو د صنـدوق لـه لارې لـه دغـه آمریـت سره شریـک کـړي، چـې د شـکایتونو د اورېـدو آمریـت بـه لـه طبقـه بنـدۍ وروسـته دغـو شـکایتونو تـه پـه شـفاف او ټـاکلي وخـت رسـېدنه وکـړي.




د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰

وټس اپ نمبر: ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦

شتمنی SHTAMANI

اوونیزه



# منابع طبیعی افغانستان؛ فرصت توسعه یا نفرین اقتصادی؟



امین الله غفوری
ماستری اداره و تجارت

منابع طبیعی یکی از بزرگترین سرمایه‌های ملی هر کشور به شمار می روند و در صورت مدیریت درست، می تواند زمینه‌ساز رشد اقتصادی، کاهش فقر، ایجاد اشتغال و توسعه پایدار شوند. با این حال، تجربه بسیاری از کشور های جهان نشان داده است که وفور منابع طبیعی همیشه به رفاه و پیشرفت منتهی نمی شوند. در بسیاری از موارد، کشورهایی که دارای نفت، گاز و معادن فراوان بوده اند، به جای توسعه اقتصادی با مشکلاتی چون فساد اداری، فقر، مهاجرت، بی ثباتی سیاسی و ضعف حکومت‌داری روبه‌رو شده اند. این پدیده در ادبیات اقتصاد توسعه به نام "نفرین منابع طبیعی یا ( Resource Curse) شناخته می شود. افغانستان در حال حاضر دارای منابع طبیعی و معادن گسترده‌ای است و با تأمین امنیت، زمینه استخراج این منابع بیشتر فراهم شده است. با این حال، اگر استخراج معادن بدون مدیریت درست و حفظ توازن اقتصادی صورت گیرد، ممکن است سایر شاخصه های درآمدزا مانند زراعت، صنعت و تجارت تضعیف شوند. در چنین حالتی، وابستگی بیش از حد اقتصاد به معادن می‌تواند زمینه‌ساز پدیده «نفرین منابع طبیعی» یا «بیماری هلندی» گردد؛ پدیده‌ای که در آن رشد سریع درآمدهای معدنی باعث آسیب به دیگر بخش‌های اقتصادی می‌شود. اصطلاح "نفرین منابع طبیعی" نخستین بار توسط اقتصاددان انگلیسی ریچارد اوتی در سال (۱۹۹۳) مطرح گردید. او در تحقیقات خود نشان داد که کشور های دارای منابع طبیعی فراوان، در بسیاری موارد رشد اقتصادی ضعیف‌تری نسبت به کشورهای فاقد این منابع داشته‌اند. از دید او وابستگی بیش از حد اقتصاد به منابع طبیعی باعث تضعیف بخش های تولیدی مانند زراعت و صنعت شده و زمینه فساد، منفعت طلبی غیرقانونی و بی ثباتی اقتصادی را فراهم می‌سازد. یکی از پیامدهای مهم این پدیده بیماری هلندی است، یعنی زمانی که درآمد زیاد منابع طبیعی باعث کاهش انگیزه تولید داخلی و وابستگی اقتصاد به صادرات مواد خام می شود. بیماری هلندی (Dutch Disease) یک پدیده اقتصادی است که زمانی رخ می‌دهد که درآمد حاصل از منابع طبیعی، مانند معادن، نفت یا گاز، به سرعت افزایش یابد و باعث شود سایر بخش‌های اقتصادی کشور ضعیف شوند. در این حالت سرمایه، نیروی کار و توجه دولت بیشتر به بخش استخراج منابع متمرکز می‌شود و بخش‌هایی مانند زراعت، صنعت، آموزش، تحصیل و تولیدات داخلی کم‌کم توان رقابت خود را از دست می‌دهند. افغانستان ممکن است در صورت استخراج گسترده معادن بدون مدیریت درست در درازمدت ، با این مشکل روبه‌رو شود. اگر اقتصاد کشور بیش از حد به درآمد معادن وابسته گردد و به بخش‌های دیگر توجه کافی نشود، ممکن است زراعت، صنایع داخلی و تجارت تضعیف شوند. در چنین شرایطی، هرچند درآمد معدنی در کوتاه‌مدت افزایش می‌یابد، اما در درازمدت توازن اقتصادی از بین رفته و اقتصاد کشور آسیب‌پذیر می‌شود. در دیدگاه اقتصادی اسلامی، منابع طبیعی "انفال" و متعلق به همه مردم دانسته می‌شود و حکومت‌ها وظیفه دارند از آن در جهت منافع عمومی و توسعه پایدار استفاده کنند. افغانستان یکی از کشورهای غنی از منابع طبیعی در منطقه محسوب می‌شود، ذخایر بزرگ مس، آهن، لیتیوم، طلا، و سنگ های قیمتی مانند لاجورد و زمرد این کشور را به یکی از مناطق مهم معدنی آسیا تبدیل کرده است. معادن مس عینک در ولایت لوگر، آهن حاجی گک در ولایت بامیان و ذخایر لیتیوم در برخی ولایت های کشور ومعادن طلا در تخار و بدخشان ظرفیت بزرگی را به سوی خودکفایی اقتصادی، کاهش وابستگی به کمک‌های خارجی و ایجاد فرصت‌های شغلی سوق دهند. با وجود این ظرفیت بزرگ، افغانستان در ۲۰سال هنوز نتوانسته است از منابع طبیعی خود به گونه موثر و عادلانه استفاده کند. در تمام مناطق کشور، مردم همچنان با فقر، بیکاری و نبود خدمات اساسی روبه رو هستند. ضعف مدیریت و عدم شفافیت در قرار دادهای استخراجی، باعث شده است که بخش بزرگی از عواید معادن تاثیر ملموسی بر زندگی مردم نداشته باشد. در برخی مناطق، استخراج غیر معیاری معادن سبب تخریب سرک‌ها، کاهش منابع آبی و آسیب به محیط زیست شده است. مردم ولایت‌های بدخشان، تخار و برخی مناطق دیگر بارها از کمبود آب آشامیدنی، نبود سرک‌های معیاری و ضعف خدمات صحی شکایت کرده اند، در حالی که فعالیت شرکت‌های استخراجی در همان مناطق جریان دارد. در همین چارچوب، یکی از موضوعات قابل توجه در بحث مدیریت منابع طبیعی افغانستان، تقویت پیوند میان استخراج معادن و توسعه زیربناهای ملی است. در بسیاری از موارد، این ظرفیت وجود داشته است که قراردادهای استخراجی نه تنها به‌عنوان یک منبع درآمد، بلکه به‌عنوان یک ابزار توسعه‌ای نیز مورد استفاده قرار گیرند. به‌گونه مثال، در صورت طراحی و اجرای قراردادهای شفاف با شرکت‌های بین‌المللی دارای تجربه در پروژه‌های بزرگ زیربنایی، از جمله شرکت‌های چینی، این امکان وجود داشت که در کنار استخراج معادن طلا در حوزه دریای آمو، پروژه‌های مهمی مانند بندهای تولید برق آبی نیز مورد توجه قرار گیرد. چنین رویکردی می‌توانست به شکل هم‌زمان به دو هدف اساسی کمک کند: بهره‌برداری از منابع طبیعی و جذب سرمایه‌گذاری خارجی، و در عین حال تقویت زیرساخت‌های انرژی و توسعه پایدار کشور. از این منظر، مدیریت بهتر این پیوند می‌توانست منابع طبیعی را از حالت صرف استخراج مواد خام فراتر برده و آن را به یک محرک مؤثر برای رشد اقتصادی و کاهش وابستگی به صادرات خام تبدیل سازد.

تجربه کشورهای مختلف جهان نشان می‌دهد که منابع طبیعی هم می توانند عامل پیشرفت باشند و هم سبب عقب ماندگی. کشورهایی مانند نیجریه، ونزوئلا، عراق و آنگولا با وجود درآمدهای هنگفت نفتی و معدنی، به دلیل فساد سوءمدیریت و وابستگی شدید اقتصادی، دچار بحران‌های اقتصادی و اجتماعی شده اند. در مقابل، کشورهایی مانند ناروی، کانادا، شیلی و بوتسوانا توانسته اند با مدیریت شفاف، سرمایه گذاری در آموزش و زیربناها و ایجاد نهادهای قوی، منابع طبیعی خود را به عامل رفاه و توسعه پایدار تبدیل کنند. افغانستان نیز می‌تواند از تجربه این کشورها استفاده کند. مدیریت سالم منابع طبیعی، شفافیت در قرار دادها، جلوگیری از فساد، سرمایه گذاری در آموزش و زیربناها و توزیع عادلانه عواید معادن، از مهم ترین عوامل موفقیت در این بخش به شمار می‌روند. همچنان ضروری است که مردم مناطق معدن خیز از مزایای واقعی معادن بهره‌مند شوند. ساخت سرک‌های معیاری، ایجاد مکاتب، کلینیک‌ها و سیستم آب آشامیدنی سالم، باید بخشی از برنامه‌های اساسی استخراج معادن باشد. بدون توجه به حقوق مردم محل و حفاظت از محیط زیست، استخراج منابع طبیعی نه تنها باعث توسعه نخواهد شد، بلکه زمینه نارضایتی اجتماعی وبحران‌های بیشتر را فراهم خواهد ساخت. در نتیجه، منابع طبیعی برای افغانستان یک فرصت بزرگ تاریخی محسوب می‌شود، اما این فرصت تنها زمانی به رفاه و توسعه تبدیل خواهد شد که مدیریت آن بر اساس شفافیت، عدالت اجتماعی و منافع ملی صورت گیرد. اگر دولت بتواند عواید معادن را در بخش های تولیدی، انرژی آبی، آموزشی و زیربنایی سرمایه گذاری کند، افغانستان خواهد توانست از خطر "نفرین منابع طبیعی" دوری کرده و به سوی اقتصاد پایدار و توسعه واقعی حرکت نماید.

# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه یک دربند سرای مسما به ورکشاپ تخنیکی پهلوان که دارای ٦٨ دوکاکین بوده و به مساحت مجموعی ٢٦١٠,٣ مترمربع واقع شش درک جوار سرک پل محمود خان مربوط ناحیه ۹ شهر کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٣١٠٦٢٧) افغانی به اعلان مزایده می سپارد - مدت سه سال کور دینات (جی پی اس نمبر) ٣٤,٥٢٤٥٠٧ ٦٩,١٩٣٩٧٠ اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ١٤٠٥/٣/٢ الی ١٤٠٥/٣/١١ به مدت (١٠) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس : سینما پامیر تعمیر ١٤ منزله ، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز. شماره تماس:(٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧)، مجلس داوطلبی ١٤٠٥/٣/١٢ به ساعت (١٠:٠٠) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه جایداد های ذیل را طور جداگانه به اعلان مزایده می سپارد.

١. موازی ٤٥٦٨,٤ متر مربع زمین واقع سمت حریم دریای کابل گذر هود خیل مربوط ناحیه ٩ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (١٠٨٧٣) افغانی، مدت ٣ سال. کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦٩,٢٨٤٢٥٨ ٣٤ .٥٤٠٩٣

٢. موازی ١٢ متر جای یکباب کانتین واقع داخل محوطه معینیت عواید گمرکات سمت غرب تعمیر نزدیک طعام خانه مربوط ناحیه ٩ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤١٨٤) افغانی، مدت ٢ سال. کوردینات (جی پی اس نمبر)٦٩,٢٣٧٨٦١ ٣٤,٥٤٥٦١٨

٣. دوکان نمبر ٢ بمساحت ٤٥,٢٤ متر مربع وقع سمت دیوار نساجی بگرامی مربوط ناحیه ١٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٨١٥٨) افغانی، مدت ٢ سال. کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦٩,٢٤٧٢٥٥٤٩ ٣٤,٥٠٣٧٣٢٦٦

اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ١٤٠٥/٢/٢٩ الی ١٤٠٥/٣/٧ به مدت (١٠) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس : سینما پامیر تعمیر ١٤ منزله ، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز. شماره تماس:( ٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧)، مجلس داوطلبی ١٤٠٥/٣/١١ به ساعت (١٠:٠٠) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه (تدارک پرزه جات وسایط مرکز و قوماندانی قطعه محافظت گمرکات وزارت مالیه برای سال ١٤٠٥) دارای نمبر تشخیصیه 1674-NCB/G/1405/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند. تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی : تاریخ ٣٠ / جوزا/١٤٠٥ ساعت ١٠:٠٠ قبل ازظهر تاریخ مشخص آفرگشایی: ١٠/ سرطان/١٤٠٥ ساعت ١٠:٠٠ قبل ازظهر آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی ، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا (https://tenders.ageops.af)، شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦ آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

## اطلاعیه

بدینوسیله به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه کانکریت ریزی پارکینگ گمرک سرحدی اسلام قلعه ولایت هرات دارای تشخیصیه نمبر 703-NCB/W/1405/MOF را با شرکت ساختمانی افغان نوبل گروپ دارنده جواز نمبر D-33062 به قیمت مجموعی ١٢٤,٦٧٢,٤٥٠ (یک صدو بیست چهار میلیون و شش صدو هفتاد دو هزار و چهار صد پنجاه) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ٧ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد. آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان -ریاست تدارکات، آمریت ارزیابی آفرها و خریداری پرچون- منزل دوم معینیت اداری.

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه (تهیه و تدارک (٢٢) عراده موتر سایکل مورد نیاز گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه 1567-NCB/G/1405/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند. جلسه قبل از آفرگشایی :تاریخ ٢٧/ جوزا/١٤٠٥ ساعت ١١:٠٠ قبل ازظهر تاریخ مشخص آفرگشایی: ٠٦/ سرطان/١٤٠٥ ساعت ١٠:٠٠ قبل ازظهر آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی ، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا (https://tenders.ageops.af)، شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦ آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.



# شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: عبدالقیوم نصیر
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

ذوالحجة الحرام ۲۷ -۱٤٤۷ل س | د غبرګولي ۲۳ -۱۴۰۵ل ل | د جون ۱۳ -۲۰۲٦ز | شپږم کال | ۱٦٦ ګڼه | ٤ مخیزه



## د مستوفیتونو له مسئولینو سره انلاین ناسته وشوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د عملیاتي مرستیال په مشرۍ او د دغه ریاست تخنیکي مرستیال، اړوند رئیسانو، آمرینو او د تنفیذ او مالیاتي اطاعت پذیرۍ عمومي مدیرانو په ګډون د ولایتي مستوفیتونو له مسئولینو سره د کاري ستونزو د حل او د چارو د لا ښه والي په موخه د ګمرکونو او عوایدو معینیت په تالار کې انلاین ناسته وشوه.

د ناستې په پیل کې د عوایدو عملیاتي مرستیال د دغه ډول ناستو پر ارزښت خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې یادې ناستې د یوه منظم مهالوېش له مخې د اداري چارو د غوره والي، همغږۍ او شته ستونزو د حل په موخه ترسره کېږي.

وروسته بیا د E-Filing سیستم د اغېزمنې کارونې، غوره تطبیق او په سګتاس سیستم کې د عمومي مدیرانو له پاره د صلاحیتونو د وېش په اړه معلومات وړاندې او همداراز د سوداګرو او خصوصي سکتور د ملاتړ او اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه د مشرتابه د پرېکړو د تطبیق پر لارو چارو رڼا واچول شوه.

د ناستې په لړ کې د مستوفیتونو د تحلیل خطر پلاوو د فعالیتونو راپور هم وړاندې او د اصنافو او سهم کرایې د مالیاتي باقیاتو په اړه یې تفصیلي معلومات له ګډونوالو سره شریک شول.

د ناستې په پای کې د وروستۍ بررسۍ د بشپړو شویو دوسیو د ترلو، په ټایس سیستم کې د قراردادونو د ثبت پر وړاندې د موجوده ستونزو، د بانکي حسابونو د تعلیق او یو شمېر نورو اړینو موضوعاتو باندې بحث وشو، چې وروسته بیا مستوفي صاحبانو خپل نظرونه، وړاندیزونه، کاري ستونزې او لازمې سپارښتنې هم شریکې کړې.

د یادونې وړ ده، چې د عوایدو لوی ریاست د مستوفیتونو د کاري ستونزو او پرمختګونو د ارزونې په موخه په هرو پنځلسو ورځو کې له مستوفیتونو سره انلاین ناسته کوي.

## د عوایدو لوی ریاست د رهبري هیئت څلورمه ناسته وشوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوي رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر په مشرۍ او د دې ریاست د مرستیالانو او رئیسانو په ګډون د عوایدو لوی ریاست د رهبرۍ ناسته د ګمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کې وشوه.

په پیل کې د عوایدو لوی ریاست د رهبري هیئت د درېیمې غونډې د پرېکړو د تحقق راپور وړاندې شو او وروسته د (۱۴۰۵) مالي کال د لومړۍ ربعې د عوایدو د تحلیل او پرمختګ او دغه راز، د څو اړینو موضوعاتو په اړه تحلیلي راپورونه وړاندې شول.

په دغه ناسته کې مالیه ورکوونکو او مراجعینو ته د خدمتونو وړاندې کولو پر وړاندې د خنډونو لرې کولو او د مالیه ورکوونکو د ستونزو د حل په موخه د مالیه ورکوونکو ځینې مهمې ستونزې له رهبرۍ سره شریکې شوې، چې په اړه به یې تر ارزونې وروسته لازمې پرېکړې وشي.



هېره دې نه وي، چې د عوایدو لوی ریاست رهبري، د یاد ریاست اړوند د ستونزو او کاري خنډونو د پېژندنې او حل په موخه ناستې ترسره کوي

## ورکشاپ تخنیکی- عملی امور املاک برای انجنیران ریاست عمومی املاک امارتی دایر گردید



ریاست امور کارکنان وزارت مالیه ورکشاپ دو ماهه تخنیکی- عملی امور املاک را برای انجنیران ریاست عمومی املاک امارتی طی نشستی در سالون کنفرانس های خیبر این وزارت دایر نمود.

در این نشست، مولوی دوست محمد مخلص معین اداری، الحاج حافظ عبدالقدیر حقانی رئیس عمومی املاک امارتی، مفتی نیاز محمد منصور آمر استخدام و وارسی کننده ریاست امور کارکنان، مولوی نجیب الله مخلص، نماینده ریاست دعوت و ارشاد، پوهنیار ضامن علی جعفری استاد پوهنتون پولی تخنیک کابل و شماری دیگر از مسئولین وزارت مالیه اشتراک داشتند.

آمر استخدام در سخنان افتاحیه این برنامه گفت، ریاست امور کارکنان این ورکشاپ را برای بهبود کار های تخنیکی و عملی شما راه اندازی نموده و در این راستا از استادان پوهنتون معتبر کشور دعوت کرده است. از این ورکشاپ برای تبادل تجارب، تقویت دانش مسلکی و مدیریت بهتر امور املاک استفاده کنید.

معین اداری وزارت مالیه گفت، انجام وظایف محوله به نحوه احسن و نیکو آن نیازمند تلاش و آگاهی است. تلاش کنید از این برنامه استفاده اعظمی نموده، موضوعات مهم را یادداشت و آنچه را فراگرفته اید به دیگران نیز انتقال دهید.

رئیس عمومی املاک امارتی گفت، خداوند متعال امر می‌کند شما را که امانت‌ها را به اهلش بسپارید. آنان که اهلیت و تقوا داشته باشند، باید بر مصدر امور قرار بگیرند. از این ورکشاپ به بهترین شکل استفاده کنید؛ با تبادل تجارب، طرح پرسش‌های تخصصی و به‌کارگیری آموخته‌ها، اهلیت حرفه‌ای و تقوای کاری خود را بیش از پیش تقویت نمایید.

نماینده ریاست دعوت و ارشاد گفت، کار و خدمت در این نظام اسلامی حکم جهاد را دارد، زیرا پایه های آن را مستحکم ساخته و دین خدا را یاری می رساند. پس نیت و اراده تان از خدمت باید یاری رساندن این نظام و کسب رضای خداوند متعال باشد.

گفتنی است که در این ورکشاپ میخانیک خاک، میخانیک سنگ، کانکریت و سمنت، قیر و آسفالت، مواد و مصالح و کیفیت آب مفصلاً به اشتراک کنندگان توضیح و تشریح خواهد شد.



د افغانستان اسلامي امارت
د مالیې وزارت
د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د تعرفې کمېټې د یو شمېر توکو د تعرفو په تړاو مهمې پرېکړې وکړې

د غويي 27مه 1405هـ.ل

د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند په مشرۍ او د اقتصاد د وزیر؛ د کانونو او پټرولیم؛ عامې روغتیا، د صنعت او سوداګرۍ او د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونو د معینانو، د اقتصادي معاونیت د اداري رئیس، د استخباراتو عمومي ریاست د دفتر رئیس، د معیار او کیفیت ادارې عمومي رئیس، د کانونو او صنایعو، سوداګرۍ او پانګونې، کرنې او مالدارۍ خونو د مسئولینو او با صلاحیته استازو په ګډون د تعرفې کمېټې د روان (1405 هـ.ل) کال دوهمه ناسته وشوه.

په دې ناسته کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، د کورني صنعت او تولیداتو د ملاتړ، کرنې او سوداګرۍ د ودې اصل ته په کتو لاندې مهمې پرېکړې وشوې، چې د تعرفې له اصولو سره سم به پلي شي.

| شمېره | د توکي نوم | د ګمرکي وارداتي تعرفې مخکینۍ فیصدي | اوسنۍ ټاکل سوې تعرفه |
|---|---|---|---|
| ۱ | زیتون غوړي | ۱٪ | ۲،۵٪ |
| ۲ | قند خشتي | ۳،۵٪ | ۱۰٪ |
| ۳ | چیني او ناشکن لوبیې | ۱۰٪ | ۸٪ |
| ۴ | د مېوې شیره | ٪۶۰ | ٪۲۰ |

همداراز، د اوسپنې خامو موادو، د کاغذ د خامو موادو، اوسپنیزو جالیو، طبي وسایلو او هم د پلۍ مټرو د تعرفو پر یو شان والي پرېکړې وشوې.

## د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای شي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره یې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.

ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



## د مالیې وزارت د ګمرکونو عمومي ریاست تل ستاسو په خدمت کې دی!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!

اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!

تماس: ۲۲۱

شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.